مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۴/۰۵/۰۳

# مقام د مورولی

د ستورو داني مومم ترې پلو را ډکومه
د میني په ځلا کې یې پر هسک را زلومه

که لور یمه که مور یم د الله (ج) یم لورینه
اثبات یې د نسا سورت ایت دریادومه

له مور بیبي مریم نه مي دی دا الهام اخیستی
زه ژوند ته رڼا وړمه پاس له غره یې خورومه

سپین لمر خپله ځلا چي ده پر مورږ نظرانه کړي
د اقرا په امر به مي خپله لور روزمه

مقام د مورولی الله(ج) په ما دی لورولی
دا گرده مخلوقات له خپله حاله خبرومه

را تم شه لغزیدلیه د تیارو خپریدل بس کړه
په ورځ کې د جزا به زه خپل حق درنه پوښتمه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ